The Bank بانک
میاشتنی | Monthly | ماهنامه
۲۰۴ گڼه - ۱۴۴۶ محرم الحرم - ۱۴۰۳ چنګاښ

# مالي جرمونه

## اقتصاد ته زیان رسوي؛ حل‌لاره څه ده؟



د اسلامي بانکوالۍ په انتخابولو سره تاسو د یوه داسې بانکي سکتور بنسټ ایښودلو ته زمینه برابروئ چې له سود څخه پاک او له شرعي اصولو سره برابر وي. دا د دنیا او آخرت د ګټو غوره لار ده.






**د امتیاز خاوند: د افغانستان بانک**

**کتنپلاوی: صدیق الله خالد، احمد جواد سداد او مفتي عبدالله آخندزاده**

**سرلیکوال: شفیق الله بارز**

**مسؤل مدیر: انور الله حیات**

**خبریال: سید خالد خالقیار**

**ډیزاین خالد احمد فیضي**

**فوټوژورنالیست: زیرک ملیا**

**د وېش مسؤل: نصرت الله احمدزی**

د چاپ شمېر: ۱۲۰۰ ټوکه

کال: اوولسم

پته: د افغانستان بانک

د ثبت ګڼه: ۶۵۸

ټلیفون: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۴۷۶۱

فکس: ۰۰۹۳۰۲۰۲۱۰۰۳۰۵

برېښنالیک: magazine@dab.gov.af

ویب پاڼه: www.dab.gov.af



- د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس د اسلامي مالي خدمتونو بورډ په کلنۍ غونډه کې... ۱
- خلکو ته د غوره بانکي خدمتونو پر وړاندې کولو د افغانستان بانک د لومړي مرستیال ټینګار ۲
- راه اندازی برنامه آموزشی برای نمایندگان بانک های تجارتی ۳
- مالي جرمونه اقتصاد ته زیان رسوي؛ حل لاره څه ده؟ ۴
- حمایت از حقوق مشتریان سکتور مالی ۸
- په افغانستان کې د برېښنايي ادائینو لمن په پراخېدو ده؛ د افغانستان ادائینو سیستم لوی آمر... ۱۲
- برېښنايي پولي واحد کولای شي د منځني ختیځ مالي شمولیت او د ادائینو اغېزناکتیا ډېره کړي ۱۵
- انواع خطرات در بانک‌ها ۱۹
- اقتصادي خبرونه ۲۱
- نقش استخراج معادن در رشد اقتصادی افغانستان ۲۴
- FACTORS INFLUENCING ONLINE TRUST AND REPEAT PURCHASE ۳۰
- High-ranking delegation of DAB attended IFSB Annual Meeting ۳۱



۲۰۴



د مضمونونو او مقالو مسئولیت د لیکوالانو پر غاړه دی. د مجلې د مقالو او انځورونو کارول د سرچینې په ذکر کولو سره جواز لري.

مسئولیت مضامین و مقالات به نویسند گان آن بر می گردد. استفاده از مقالات و تصاویر مجله با ذکر مأخذ مجاز است.

# د افغانستان بانک د ټولو سرپرست رئیس د اسلامي مالي خدمتونو بورډ په کلنۍ غونډه کې د ګډون په موخه جیبوټي هېواد ته ولاړ

۱۴۴۵ ذوالحجة الحرام ۲۲ -۲۶ – د افغانستان بانک سرپرست رئیس ښاغلي هدایت الله بدري او ورسره مل پلاوي د اسلامي مالي خدمتونو بورډ (IFSB) په ۲۲ کلنۍ غونډه کې د ګډون لپاره جیبوټي هېواد ته سفر وکړ.

دا کلنۍ غونډه په جیبوټي هېواد کې د روان میلادي کال د جولای میاشتې پر لومړۍ او دویمه ورځ د اسلامي مالي خدمتونو بورډ او د دې هېواد د مرکزي بانک له لوري جوړه شوې وه چې په ترخ کې یې د بورډ د تېر کال پر اجراآتو او مالي راپورونو بحثونه تر سره او تصویب شول. همدارنګه د بورډ غړو هېوادونو د راتلونکي کال لپاره د شریعت د اصولو په رڼا کې د اسلامي بانکوالۍ اړوندو معیارونو، د مالي شرکتونو او بانکونو د ښه مدیریت، پر اسلامي بانکوالۍ د ډیجټل کولو اغېز او په نړیواله کچه د اسلامي بانکوالۍ او تمویل د ترویج په اړه پر پلانونو او عملي اقداماتو بحثونه تر سره شول.

د اسلامي مالي خدمتونو بورډ (IFSB) یوه نړیواله اداره ده چې د اسلامي مالي خدمتونو صنعت د سلامتیا او ثبات د پیاوړتیا لپاره معیارونه چمتو او خپروي. دا معیارونه د اسلامي شریعت او اصولو په چوکاټ کې د بانکوالۍ سکتور، مالي بازارونو او بیمې په برخه کې د هغو مؤسساتو لپاره رامنځته کېږي چې د اسلامي مالي خدمتونو صنعت په برخه کې فعالیتونه تر سره کوي.

د یادونې وړ ده چې د افغانستان بانک، د اسلامي مالي خدمتونو د بورډ (IFSB) غړیتوب لري.

# خلکو ته د غوره بانکي خدمتونو پر وړاندې کولو د افغانستان بانک د لومړي مرستیال ټینګار

۱۴۴۵ ذوالحجة الحرام ۲۷ مه د افغانستان بانک لومړي مرستیال ښاغلي نوراحمد آغا په کاپیسا ولایت کې د افغانستان بانک له نمایندګۍ څخه لیدنه وکړه.

د افغانستان بانک لومړي مرستیال یاد ولایت ته د خپل سفر په لړ کې د افغانستان بانک او سوداګریزو بانکونو وضعیت له نږدې ولید او مسئولینو ته یې د خلکو لپاره د غوره خدمتونو پر وړاندې کولو ټینګار وکړ.

په دې لیدنه کې په کاپیسا ولایت کې د افغانستان بانک مسئولینو له ښاغلي نوراحمد آغا سره خپلې ستونزې او وړاندیزونه شریک کړل.

نوموړي په دې برخه کې د پوره همکارۍ ډاډ ورکړ او ویې ویل چې د افغانستان بانک د هېواد د مرکزي بانک په توګه ژمن دی ترڅو د درنو هېوادوالو لپاره د هېواد په ټولو برخو کې د غوره بانکي خدمتونو د وړاندې کولو زمینه برابره کړي.






# راه اندازی برنامه آموزشی برای نمایندگان بانک های تجارتی

۲۶ ذوالحجة الحرام ۱۴۴۵ - مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی د افغانستان بانک برنامه آموزشی یک روزه را برای شماری از کارمندان بخش های تطبیق و رعایت از قانون بانک های تجارتی راه اندازی نمود.

این برنامه آموزشی بمنظور ارتقای ظرفیت در امر مبارزه با پولشویی و سایر جرایم مرتبط تدویر گردید.

طی این برنامه آموزشی، برای کارمندان بخش های مربوطه بانک های تجارتی، پیرامون تهیه گزارش های معاملات مشکوک و بزرگ مشتریان بانک های تجارتی، تطبیق فهرست تحت نظر مرکز تحلیل معاملات و راپور های مالی د افغانستان بانک، معلومات مفصل در مورد قوانین، مقررات، بخش های عملیاتی و برخی از موضوعات مرتبط به هدف جلوگیری از عواید ناشی از جرایم، معلومات جامع ارائه شد.



# مالي جرمونه
## اقتصاد ته زيان رسوي؛ حل لاره څه ده؟

**(دا مقاله د پيسو نړيوال صندوق له ويبپاڼې څخه ژباړل شوې ده.)**

نړۍ د مالي جرمونو پر وړاندې د مبارزې په برخه کې ماته نه ده خوړلې، خو د جرمونو د اقتصادي اغېزو د کمولو په موخه لا زياتو هڅو ته اړتيا ده.

د پيسو وينځل د سازمان شوو جرمونو يوه اړينه برخه ده چې ډېرى وخت له مالياتو څخه د تېښتې، د هېواد د پولو له لارې د ناقانونه پيسو د لېږد، د لويو جرمونو د تمويل او د چارواکو د فاسديدو لامل کېږي چې دا کار د لوی اقتصاد په اډانه کې ستر زيانونه لري. مجرمين د خپلو دوديزو تخنيکونو ترځنګ نوې

ټکنالوژي هم کاروي، چې دا ټول لاملونه د ټولشمولي اقتصادي ودې دوام او پراختیا په منفي توګه اغېزمنوي چې په پایله کې یې نابرابریو او غیر رسمي مالي چارو ته لاره هوارېږي.

نړیوالې ټولنې د پیسو وینځلو او د لویو جرمونو د تمویل پر وړاندې د خوندیتوب د پیاوړتیا په برخه کې د پیسو د نړیوال صندوق او نورو سازمانونو په مرسته د پام وړ پرمختګ کړی دی. یوه لسیزه مخکې پریکړه وشوه چې د غړو هېوادونو او نړیوالو شریکانو، په ځانګړې توګه د مالي اقداماتو ډلې (FATF) په مرسته، چې په دې برخه کې د نړیوالو معیارونو ترتیبوونکې اداره ده، د مهمو خطرونو د پېژندلو په موخه یو مناسب چلند غوره شي.

خو په دې تړاو په ټولیزه توګه هڅې لاهم په پراخه کچه ناکافي دي. د بېلګې په توګه، څرنګه چې د مالي اقداماتو ډلې تېر کال یادَونه کړې وه، د دې هڅو د اغېزناکتیا د قوانینو د رعایتولو په تخنیکي برخه کې د هېوادونو د پرمختګ ترمنځ لوی واټن شتون لري. د دې پرمختګ ښه بېلګه د نویو قوانینو نافذول دي چې اوس هم په دې برخه کې کموالی لیدل کیږي او په ډېرو لږو پېښو کې د پیسو وینځلو او په غیرقانوني توګه ترلاسه شوي عواید ضبط کیږي.

په همدې بنسټ، د پیسو نړیوال صندوق پدې وروستیو کې د پیسو وینځلو او د لویو جرمونو د تمویل پر وړاندې د مبارزې په اړه د ستراتیژۍ بیاکتنه وکړه چې موخه یې له ۱۹۰ غړو هېوادونو سره د مالي روڼتیا د مهمو موضوعاتو په حلولو کې په ښه توګه مرسته کول ګڼل کیږي.

**لوی زیانونه**

لومړی باید پوه شو چې مالي جرمونه په ژوند او معیشت او په ځانګړې توګه په خورا زیان مُونکو خلکو باندې ډېره اغېزه کوي او زیانونه یې ډېر لوړ او مخ پر زیاتیدونکې بڼه لري. مستقیم زیانونه یې بېلابېل دي چې لږ عواید، ډېر لګښتونه، بندیزونه، د بانکي خدمتونو له لاسه ورکول او حتی د مالي بې ثباتۍ زیاتېدل هم رانغاړي.

د بېلګې په توګه، د پیسو نړیوال صندوق وروستۍ کړنې په نورډیک بالتیک سیمه کې د دې ښکارندويي کوي چې د پیسو وینځلو او د لویو جرمونو د تمویل پر وړاندې د مبارزې نیمګړتیاوې نه یواځې دا چې په مستقیمه توګه تر ډېره د اغېزمن شوو بانکونو د ونډو په بیو کې له پراخه کموالي سره تړاو لري، بلکې په همغه هېواد کې د نورو پور ورکوونکو د ونډو په بیو کې له کموالي او همدا ډول د سیمې له هغو بانکونو سره هم تړاو لري چې د نړیوالو لېږدونو ورته احتمالي خطرونه لري.

**د ونډه لرونکو پانګه له خطر سره مخ ده**

بانکي ونډې ډېر ځلې له مالي روڼتیا څخه د سرغړونې په صورت کې کموالی مومي، حتی که چېرې په مستقیم ډول هم نه وي اغېزمنې شوې.

**د مالي روڼتیا د پېښو پر مهال د ونډه لرونکو د پانګو په بیو کې بدلون**




سرچینې: د پیسو نړیوال صندوق د کارکوونکو محاسبه او د Refinitiv Datastream ډیټابیس

یادښت: د سلنې پر بنسټ د اروپایي ټولنې د بانکونو په پرتله د ونډه لرونکو پانګې (T+3/T-2ښکاره کوي)

غیر مستقیم لګښتونه لا تر دې هم زیات دي ځکه چې ټول اقتصاد رانغاړي چې یا د ښه والي او رکود دورې ته د ودې ورکولو او یا د کورونو د بیو د نهایي زیاتېدو په پایله کې رامنځته کیږي. د مالي جرمونو له کبله د مالي ثبات په احتمالي اغېزو کې له بانک څخه په زیاته کچه د امانتونو ایستل او د بهرنی پانګونې له لاسه ورکول شامل دي. په زیاته اندازه د پیسو وینځل کولای شي د نړیوالې پانګې د بهیر نوسانونه زیات کړي، ښه حکومتولي کمزورې کړي، سیاسي بې ثباتي وهڅوي او په ټولیزه توګه په حکومتونو او ادارو باندې باور له منځه یوسي.

**په امانتونو کې بدلونونه**

د پیسو وینځلو پر مهال د بانکونو په امانتونو کې کموالی راتلای شي.

**د اغېزمنو او نورو بانکونو څخه د امانتونو وتل**




سرچینې: د پیسو نړیوال صندوق د کارکوونکو محاسبه او څارنیز معلومات

یاددښت: د سلنې پر بنسټ په ټولیزه امانتونو کې بدلونونه (M+1/M-1) **د پیسو نړیوال صندوق**

په غیر قانوني توګه د پیسو په بهیر کې د پیسو شاملیدل او ترې وتل یوه نړیواله ستونزه ده. په ځینو هېوادونو کې د نړیوالو مالي مرکزونو په ګډون، د پیسو وینځلو او لویو جرمونو د تمویل پر وړاندې د مبارزې ناکافي چوکاټونه کولای شي له بهر څخه جرمي عواید را جذب کړي. په کومو هېوادونو کې چې د غیرقانوني پیسو لېږدوونکي موجود وي، هغه هېوادونه د لږو فرصتونو، د لوړې نابرابرۍ، زیاتې بې وزلۍ، د ډېرې غیرقانوني کړنوالۍ، د سرچینو د ناوړې کارونې او د چاپېریال د خرابېدو شاهدان وي. د بېلګې په توګه، یوه څېړنه ښیي چې په افریقا کې بهر ته د غیرقانوني پیسو بهیدل د کورني عاید د لېږد لامل ګرځي. په افریقا کې د سهارا له سویلي هېوادونو څخه په احتمالي ډول ۱،۳ ټریلیونه ډالر ایستل شوي دي. دا پیسې د دې لوېې وچې د پراختیا لپاره کارول کیدلای شوې. په پایله کې د پانګونې پر کچه، په ځانګړې توګه په شخصي پانګونې د پام وړ او منفي اغېزه لري او د افریقا د سپما کچه کموي. دا اغېزې کولای شي په هغو هېوادونو باندې هم احتمالي اغېزې ولري چې ناقانونه عواید لېږدوي یا یې ترلاسه کوي.

پورتني موارد دا په ډاګه کوي چې پیسې وینځل او د لویو جرمونو تمویل کولای شي اشخاصو، هېوادونو او حتی نړیوال اقتصاد ته زیان ورسوي نو ځکه یې په اړه ژوره پوهه ډېره مهمه ده. د پیسو وینځلو او لویو جرمونو د تمویل ناوړه پایلو ته په کتو، د پیسو نړیوال صندوق (IMF) په خپلو ټولو کړنو کې په جدي توګه د پیسو وینځلو او لویو جرمونو د تمویل پر وړاندې د مبارزې قوانینو تطبیق په پام کې نیسي او له خپلو غړو څخه غواړي چې خپل مالي سکتورونه او اقتصادونه خوندي کړي، ترڅو د نړیوال مالي ثبات په ډاډمنولو کې مرسته وکړي.

**ژوره پوهه**

په تاریخي توګه د پیسو وینځلو او د لویو جرمونو د تمویل شننه پر ګواښونو او زیانونو متمرکزه وه. دواړه د خطرونو په اندازه کولو او مهارولو کې بنسټیز رول لري، خو نورو مواردو ته لا هم

اړتیا شته. د پایلو د بشپړې کچې د پوهیدلو په موخه هېوادونه باید د دې وړتیا ولري څو د پیسو د غیرقانوني بهیر پر مالي، پولي او ساختماني لګښتونو باندې پوه شي. د مستند کولو لپاره پر دې پوهیدل اړین دي چې څنګه مالي روڼتیا د یو ځانګړي هېواد پر مالي ثبات او اقتصاد باندې اغېزه کوي، او همدارنګه د روڼتیا نشتون نړیوال مالي ثبات څنګه اغېزمنوي.

پر دې بنسټ، د پیسو د نړیوال صندوق اجرائیوي بورډ د دې اداري لپاره یو پلان تایید کړی، ترڅو پر دې موضوعاتو د تمرکز کولو په موخه د معلوماتو د شننې ظرفیت پراخه کړي او د پیسو نړیوال صندوق د څار، د پور ورکولو معاملاتو، د ظرفیت پراختیا او د مالي سکتور ارزونې د پروګرامونو په ګډون زموږ په ټولو مهمو کاري برخو کې د همغږۍ چلند ته وده ورکړي. دا نوې تګلاره به د لاندې پوښتنو په ګډون د پیسو نړیوال صندوق ته نوي شواهد هم برابر کړي تر څو مهمو پوښتنو ته ځواب ووایي:

له بانکونو او املاکو نیولې تر مجازي شتمنیو او قیمتي فلزاتو پورې، کوم سکتورونه د پیسو وینځلو پر وړاندې خورا زیات زیان مټونکي دي؟

کوم هېوادونه د غیرقانوني پیسو صادروونکي دي او یا دوی ته د ترانزیت اجازه ورکوي او کوم هېوادونه یې په خپل اقتصاد کې شاملوي؟

د پیسو دا غیرقانوني بهېدنې څنګه د ټول ګټونه او دوامداري ودې او پرمختیا د امکاناتو په ګډون پر اقتصاد اغېزه کوي؟

د مالي روڼتیا په برخه کې د لسیزو پرمختګ څخه وروسته، د پیسو نړیوال صندوق او نړیواله ټولنه باید دې مبارزې ته دوام او زیات زور ورکړي. جرم یو خوځنده عمل دی، خو موږ کولای شو د مخنیوي هڅې یې ژورې او پراخه کړو چې پدې کې د دولتونو، نړیوالو ادارو او مدني ټولنې په ګډون د شریکانو ترمنځ د همکارۍ ښه کول شامل دي. هغه څه چې زموږ لپاره اړین دي، هغه دا چې د پیسو نړیوال صندوق به خپل ځواک د یو لوی اقتصادي بنسټ په توګه چې نړیوال ورته لاسرسی لري، وکاروي ترڅو له خپلو غړو سره د مالي جرمونو او د پیسو غیرقانوني بهېدنو د اغېزو ارزونه وکړي او د حل لپاره یې پالیسۍ ډیزاین او پلي کړي څکه چې په دې برخه کې د پاتې راتللو لګښت خورا لوړ دی.

لیکوالان: کارولینا، کلاور، چادي الخوری، رودا ویکس براون

ژباړن: محمد فاروق تسل

سرچینه:

https://www.imf.org/en/Blogs/Articles/2023/12/07/financial-crimes-hurt-economies-and-must-be-better-understood-and-curbed

# حمایت از حقوق مشتریان سکتور مالی




### مقدمه

بحران مالی سال ۲۰۰۸ در ایالات متحده امریکا نقش حمایت از حقوق مشتریان مالی [1] را در تأمین ثبات سیستم مالی دوامدار برازنده ساخت. در عین زمان افزایش در استفاده از خدمات مالی، ضرورت داشتن و تقویه مقررات مالی، راه اندازی برنامه های دانش مالی را جهت حفظ حقوق و توانمندسازی مشتریان مالی، آشکار کرد.همچنان گروپ کارشناسان شمولیت مالی [2] در گروه بیست (G20) تشکیل شد و اصول شمولیت مالی نوآورانه [3] طرح گردید و اصل شماره ۴ آن حمایت از حقوق مشتریان مالی را یک ضرورت جدی میداند. قابل ذکر است گروه بیست برای تأمین هرچه بهتر حقوق مشتریان در سکتور مالی ۱۰ اصل را

1- Financial Consumer Protection
2- G20 Financial Inclusion Experts Group
3- G20 Principles for Innovative Financial Inclusion

بطور کُلی پیشنهاد نموده است این اصول در سال ۲۰۱۰ میلادی از طرف کشور های عضو گروه بیست در شهر تورنتو کشور کانادا مورد تائید قرار گرفت. به همین ترتیب بانک جهانی در سال ۲۰۱۷ رهنمود جامع را تحت نام شیوه های خوب حمایت از حقوق مشتریان مالی نشر نمود که بانک جهانی در رهنمود متذکره موجودیت حداقل چهار اصل عمده را در چارچوب حقوقی مربوط به حقوق مشتریان در سکتور مالی، لازمی می داند. این اصول عبارت از آشکار سازی معلومات و شفافیت، رفتار تجاری مناسب و عادلانه، حفظ محرمیت معلومات مشتریان، و میکانیزم رسیدگی به شکایات و حل منازعات مشتریان، میباشند که در ذیل به یک تعداد از آنها پرداخته شده است.

## مفهوم حقوق مشتریان مالی

تأمین حقوق مشتریان در سکتور مالی نیازمند تدابیر و اقداماتی می باشد که حقوق مشتریان را ذریعه طرح و تطبیق قانون و مقررات مربوطه حفظ کرده و روابط آنها را با عرضه کنندگان خدمات مالی تنظیم نماید. موجودیت چارچوب حقوقی مشخص توام با برنامه های توانمند سازی، اعتماد مشتریان را بر سکتور مالی بیشتر ساخته و آنها را قادر می سازد تا تصامیم آگاهانه اتخاذ نموده و از اقدامات خطر آمیز خودداری نمایند. همچنان سازمان بین المللی شمولیت مالی ( Alliance for Financial Inclusion) حمایت از حقوق مشتریان را عکس العمل مقرراتی در مقابل نواقص و کمبودی های بازار تعریف می کند.

حمایت از حقوق مشتریان مالی و دانش مالی از یک طرف باعث افزایش مؤثریت، شفافیت و تقویه رقابت و از طرف دیگر باعث ایجاد تعادل میان عرضه کنندگان خدمات مالی و استفاده کنندگان آن گردیده و مردم جهت استفاده از خدمات مالی تشویق میگردند چون از تأمین حقوق خویش مطمئن میگردند.

## راه های عملی حمایت از حقوق مشتریان مالی

عملی سازی اقدامات و پالیسی های مربوط به تأمین حقوق مشتریان مالی در یک کشور و نهادینه سازی آن، بیشتر بستگی به مباحث و مفاهیم ذیل داشته و متکی به آنها می باشد که لازم است تا در مطابقت با شرایط داخلی هر کشور و معیارات بین المللی روی آنها کار صورت گیرد.

- چار چوب حقوقی- شامل قوانین و مقررات نافذه مربوط به محافظت از حقوق مشتریان مالی
- ساختار نهادی- که شامل تشکیلات، وظایف و صلاحیت ها و چگونگی هماهنگی بین بخش ها میگردد
- آشکار سازی معلومات- ارایه معلومات متناسب (هزینه، مزایا، خطرات) در مورد خدمات مالی می باشد. بطور مثال؛ ارایه و آشکارسازی معلومات و شرایط کلیدی از قبیل فیس خدمات، هزینه ها و سود های قابل پرداخت، نرخ ربح و شیوه محاسبه آن برای تمام افراد بطور یکسان و بدون تبعیض اطلاق میگردد.
- شفافیت- به معنای صداقت، واضح و آشکار بودن و مسئولیت پذیری در امر ارایه معلومات و خدمات به مشتریان میباشد.
- ارایه مسئولانه خدمات و محصولات – حصول اطمینان ازینکه خدمات و

محصولات مالی با درنظر داشت مسئولیت اجتماعی مؤسسات مالی، با هزینه مناسب و بدون تبعیض برای مشتریان ارایه میگردد.

- مناسب بودن خدمات و محصولات – به معنی حصول اطمینان از مناسب بودن خدمات و محصولات مالی عرضه شده با نیاز و اهداف مشتریان و جلوگیری از اضافه قرضداری/بدهکاری بیش از حد(۴) می باشد.
- حفظ محرمیت معلومات- موجودیت میکانیزم و چارچوب حقوقی که محرمیت معلومات مشتریان را حفظ نموده و اعتماد آنها بر سیستم مالی بیشتر از پیش تقویت گردد تا ازین طریق مشتریان بالقوه زیر چتر سیستم مالی آمده و معضل محرومیت مالی تا اندازه یی حل گردد.
- حل و فصل منازعات مالی- هدف اصلی عبارت از موجودیت میکانیزم های مناسب رسیدگی به شکایات و حل و فصل منازعات مالی مستقل داخلی(۵) و خارجی(۶) می باشد که به سادگی قابل دسترس بوده، با هزینه کمتر و وقت معین به شکایت مشتریان رسیدگی نماید
- دانش/سواد مالی- مفهوم دانش مالی بر این منطق استوار است که مشتریان باید توانایی درک ماهیت اصلی خدمات و محصولات مالی و خطر های متصور آنها را درک کنند و قابلیت ارزیابی و استفاده از خدمات و محصولات را داشته باشند.

با در نظر داشت موارد فوق، بطور مختصر باید یادآور شد که در عمل به صورت عموم به سه طریق میتوان حقوق مشتریان مالی را تأمین نمود:

۱- قانون و مقررات (چارچوب حقوقی)، که تنظیم کننده ارتباط میان فراهم کنندگان خدمات مالی و استفاده کنندگان، تأمین کننده عدالت، شفافیت و اعاده حقوق آنها می باشد .

۲- میکانیزم اجرایی مؤثر غرض رسیدگی به شکایات و حل منازعات مالی.

۳- طرح و راه اندازی برنامه های دانش مالی و آگاهی دهی عامه. چون دانش مالی و آشکارسازی معلومات نقش اساسی در از بین بردن مشکل معلومات نا متقارن بازی میکنند.

## اصول اساسی حمایت از حقوق مشتریان

- ساختار نهادی: یکی از اصول مهم حمایت از حقوق مشتریان در سکتور مالی عبارت از ساختار نهادی است. یعنی اینکه مسئولیت و حق الاختیار ترتیب و تطبیق قوانین و مقررات مربوط به کدام نهاد باشد. اکثریت کشور ها بخش محافظت از حقوق مشتریان مالی را در چوکات بانک مرکزی خویش ایجاد کرده و توجه بسزایی را در این مورد به خرج داده اند.
- چارچوب حقوقی/مقرراتی: در مورد چارچوب حقوقی باید گفت که بر اساس پیشنهاد بانک جهانی و شیوه های خوب بین المللی، برای تأمین حقوق مشتریان مالی باید یک چارچوب حقوقی مشخص و

4- Over-indebtedness
5- Internal dispute resolution
6- External dispute resolution

جداگانه طرح و تطبیق گردد.

- میکانیزم رسیدگی به شکایات و حل منازعات مالی: پالیسی سازان و نهاد های بین المللی همچون بانک جهانی، نهاد جهانی و سازمان بین المللی ای اف آی (AFI) میکانیزمی را پیشنهاد نمودند تا از طریق آن تمامی شکایات و منازعات مالی مشتریان با هزینه کمتر، به موقع و بدون تبعیض پروسس شده و حل و فصل گردد و ازین طریق اعتماد هرچه بیشتر مردم به سیستم مالی جلب گردد.

در عمل میکانیزم یاد شده به دو دسته تقسیم میگردد؛ میکانیزم داخلی رسیدگی به شکایات و حل منازعات مالی و میکانیزم خارجی. میکانیزم داخلی رسیدگی به شکایات و حل منازعات به دستور تنظیم کننده سکتور مالی توسط مؤسسات مالی ایجاد شده و به شکایات مشتریان خویش رسیدگی می نمایند. میکانیزم خارجی غرض رسیدگی به شکایات و حل منازعات مالی مشتریان ایجاد شده تا آنعده از شکایات و منازعات مشتریان که توسط میکانیزم داخلی مؤسسات مالی حل و فصل نشده باشد و یا مشتری از فیصله میکانیزم داخلی راضی نباشد، را حل و فصل نماید.

میکانیزم و یا پروسه رسیدگی به شکایات و حل منازعات مالی از یک کشور تا کشور دیگر فرق میکند اما بصورت عموم شکل ذیل مراحل رسیدگی به شکایات و حل منازعات مالی را بصورت عملی نشان میدهد.

**شکل: مراحل رسیدگی به شکایات و حل منازعات مالی**




ماخذ

1. Alliance for financial inclusion (2017). Alternative dispute resolution survey report.
2. Alliance for financial inclusion(2010). AFI Policy note, consumer protection: leveling the playing field in financial inclusion.
3. AFI (2020). Policy model on consumer protection for digital financial services.
4. CGAP (2012). Financial inclusion and the linkages to stability, integrity and protection: insights from the South Afrian experience, Nov 2012. PP 5-15
5. Grady, Rose (2012). Consumer protection in the financial sector,pp 1-20
6. OECD(October 2011). G20 High-level principles on financial consumer protection. Frane.
7. http://documents.worldbank.org/curated/en/492761513113437043/Good-practices-for-financial-consumer-protection-2017-edition




# په افغانستان کې د برېښنايي ادواينو لمن په پراخېدو ده

## په دې هکله د افغانستان د ادواينو سيستم لوی آمر سره خبرې اترې

د بانک مجله په پام کې لري ترڅو وخت په وخت د افغانستان بانک د بېلابېلو آمريتونو دندې، مسؤليتونه او لاسته راوړنې له ګرانو لوستونکو سره شريکې کړي. د افغانستان بانک د خپرونو څانګې خبريال د مجلې په دې ګڼه کې د افغانستان د ادواينو/ تادياتو سيستم لوی آمر ښاغلي اسدالله مشفق سره د ياد آمريت د کړنو او فعاليتونو په اړه مرکه کړې ده. دا چې د افغانستان د ادواينو سيستم لوی آمريت کومې دندې او مسؤليتونه لري، چارې څنګه مديريت کوي او راتلونکي پلانونه يې څه دي، په اړه يې دلته د مجلې ګرانو لوستونکو سره معلومات شريکيږي.

**خبریال: ښاغلی مشفق صاحب که په لومړي سر کې درنو لوستونکو ته د افغانستان د ادواینو سیستم په اړه معلومات ورکړئ، مهرباني به مو وي؟**

**مشفق:** د افغانستان د ادواینو سیستم لوی آمریت د افغانستان د برېښنايي ادواینو د ملي سویچ او د افغانستان بانك د یو آمریت په توګه کار کوي او د نوو برېښنايي ادواینو او د موبایل له لارې د ادواینو، پرچوني بانکوالۍ خدمتونو ته پراختیا ورکوي او د خدمتونو پر وړاندې کولو سره د افغانستان د پرچوني بانکوالۍ د بازار په پرمختګ او عصري کولو کې مهم رول لوبوي.

د دې آمریت لید لوری په افغانستان کې له نغدو پیسو پرته د یوې ټولنې رامنځته کولو په موخه په فعاله توګه د برېښنايي ادواینو د سیستم هڅول او له دې څخه ډاډ ترلاسه کول دي چې په هېواد کې د برېښنايي ادواینو سیستم خوندي، ګټور، د ګډو عملیاتو وړتیا درلودونکی، قانوني، د لاسرسي وړ، ټولشموله او له نړیوالو معیارونو سره برابر وي.

ماموریت یې له ګډې عملیاتي وړتیا سره د پرچوني برېښنايي ادواینې د یوې ګډې بیخبنا (زیربنا) برابرول دي چې د برېښنايي ادواینو، د کارت خدمتونو او د موبایل له لارې د مالي خدمتونو د پروسس او سویچنګ لپاره یو کم لګښته او د ډېرو چینلونو لرونکی سویچ دی او د ټولو غړو د دوه اړخیزو ګټو لپاره له نغدو پیسو پرته یوه ټولنه رامنځته کوي.

**خبریال: ښاغلی مشفق صاحب، د تادیاتو سیستم لیدلوری او ماموریت په اړه مو له موږ سره معلومات شریك کړل، غوره به وي چې له درنو لوستونکو سره د دې آمریت د موخو په اړه هم معلومات شریك کړئ؟**

**مشفق:** د دې آمریت موخې په افغانستان کې د مالي مؤسسو ترمنځ د ګډو عملیاتو د وړتیا برابرول، د برېښنايي ادواینو د یوې ګډې بیخبنا جوړول، د داخلي کارت د طرحې لوړول، د برېښنايي ادواینو د خدمتونو پرمختګ او ترویجول او د نړیوالو کارتونو د طرحې وړاندې کول دي.

باید ووایم چې دا آمریت د بانکوالۍ او کوچنۍ پانګونې، داخلي کارت، د نړیوالې ادواینې کارت، د سوداګرو څارنه او مدیریت، د موبایل لنډ پیغام له لارې بانکوالۍ، د موبایل له لارې بانکوالۍ او د IVR بانکوالۍ، عامه خدمتونو، د ګمرکي مالیو راټولولو (ASYCUDA)، د عوایدو د مالیو راټولولو (SIGTAS)، برېښنا (د برېښنا د بل ادواینې)، د ادواینو نورو عمومي خدمتونو، د برېښنايي پیسو مؤسسو (اي ام آی) ، د ګډو عملیاتو وړتیا، د مخکې ادواینې کارتونو، د ادواینو مؤسسو، او د صرافیو د اتوماتو ماشینونو کنټرولولو په برخه کې خدمتونه وړاندې کوي.

**خبریال: په دې برخه کې تر دې مهاله کوم کارونه تر سره شوي دي؟**

مشفق: په تېر کال کې د افغانستان د ادواینو سیستم وتوانید چې د زیات شمېر دولتي ادارو د تادیاتو سیستمونه وصل کړي. په دې ادارو کې د کار او ټولنیزو چارو وزارت، د ټرانسپورټ او هوايي چلند وزارت، د احصائیې او معلوماتو ملي اداره او د لوړو زدکړو وزارت شامل دي.

همدارنګه د افغانستان د تادیاتو له سیستمونونو یا ملي سویچ سره ټول سوداګریز بانکونه وصل وي او ټولې لیږدونې زموږ د سیستمونو له لارې ترسره کیږي، هغه مخابراتي شرکتونه چې د موبایل پیسو (موبایل ماني) په برخه کې فعالیتونه تر سره کوي هغوی هم زموږ له سیستمونو سره وصل شوي دي، ځینې غیر بانکي مالي مؤسسات هم وصل شوي دي او په نورو هم کار روان دی چې د افغانستان د تادیاتو سیستم سره وصل شي.

د نړۍ په نورو هېوادونو کې هم د تادیاتو سیستمونه د ملي سویچ سره وصل دي او د همدې ملي سویچ له لارې ټولې ادواینې تر سره کیږي.

**خبریال: برېښنايي اداينې/ تادیات کومې ښېګڼې لري؟**

مشفق صاحب: برېښنايي اداينې ډېرې ښېګڼې لري. له دې سره په بازار کې د نغدو پيسو د کارولو کچه ټيټېږي او دا چاره د دې لامل کېږي چې بانکنوټونه په ښه ډول وساتل شي او تر وخت وړاندې مندرس نه شي. همدارنګه له برېښنايي اداينو سره چټکتیا، دقت او آساني راځي، په بانکونو او نورو هغو ځايونو کې چې هلته پولي معاملات تر سره کېږي د ګڼې ګوڼې د کمښت سبب کېږي او خلک کولای شي چې له لرې واټن څخه په برېښنايي ډول خپلې اداينې تر سره کړي.

**خبریال: آیا تر دې مهاله د برېښنايي بانکوالۍ د پراختیا لپاره خلکو ته AfPay کارتونه ویشل شوي دي، ترڅو درانه هېوادوال د برېښنايي بانکوالۍ څخه برخمن شي؟**

**مشفق صاحب:** بلې، دا پروسه دوام لري، تر دې مهاله شاوخوا ۴۰ زره د AfPay کارتونه د افغانستان د اداينو سیستم یا APS له لورې توزیع شوي دي. همدارنګه د سوداګریزو بانکونو له لورې هم څه باندې ۶۰ زره د AfPay کارتونه ویشل شوي او له دې وړاندې چې کوم کارتونه د سوداګریزو بانکونو له لورې ویشل شوي وو هغه هم ټول اف پې کارتونو ته مایګریټ شوي دي.

د دې کارتونو ښېګڼې دا دي چې د دې کارتونو په وسیله وګړي کولای شي ټولې معاملې په برېښنايي/ الکترونیک ډول تر سره کړي، د وخت د ضایع کېدو څخه مخنیوی کوي، پېر او پلور پرې تر سره کولای شي، مالیات پرې ادا کولای شي او زیات شمېر نورې ښېګڼې لري.

**خبریال: د برېښنايي اداينو د ترویج لپاره څومره هلې ځلې تر سره شوې دي؟**

مشفق: لکه څرنګه چې مخکې هم یادَونه وشوه، د AfPay په نوم کارت چې د دې کارت طرحه داخلي او د افغانستان بانک خپله طرحه ده بازار ته وړاندې شوی دی او عملاً درانه هېوادوال له دې کارت څخه کار اخلي، د زیات شمېر ادارو د اداينو سیستمونه وصل شوي او ارزَونه یې په بریالۍ توګه تر سره شوې ده.

همدارنګه د مالیې له محترم وزارت او نورو ادارو سره په اړیکه کې یو، تر څو وکولای شو ټولې هغه اداينې چې دا مهال په فزیکي ډول تر سره کېږي برېښنايي شي. په همدې موخه له اړوندو ادارو سره زموږ تخنیکي ناستې دوام لري او پلان دا دی چې په لومړي سر کې ټولې داخلي اداينې له فزیکي څخه الکترونیکي ته واړول شي او په دویم قدم کې به د ماسټر کارت او ویزا کارت د وصل لپاره ګامونه پورته شي، ترڅو په دې وسیله وکولای شو چې زموږ هر هېوادوال د نړۍ له هرې برخې چې وغواړي خپلو حسابونو ته لاسرسی ولري.

**خبریال: ډېره مننه که د کارکوونکو د ظرفیت په اړه راته ووایاست، آیا هغه کسان چې دلته دندې تر سره کوي نوي په دندو ګمارل شوي دي او له دې وړاندې یې هم په دې برخه کې دندې تر سره کولې؟**

مشفق صاحب: لله الحمد زموږ سره ډېر ښه کدرونه شته چې ډېری کسان یې په همدې اداره کې له لسو کلونو زیاته تجربه لري او ټول سیستمونه د همدې کدرونو د هلو ځلو په پایله کې ساتل شوي او رامنځته شوي دي، هلې ځلې مو دا دي چې په دې برخه کې ظرفیت لا ډېر لوړ شي، ترڅو په دې وسیله وکولای شو چې د اداينو په برېښنايي کولو کې خپل مثبت رول تر سره کړو.

هغه کسان چې نوي په دندو ګمارل کېږي یادو کسانو ته د همدې کدرونو له لورې روزنه ورکول کېږي او کله چې ډاډ تر لاسه شي چې نوي کسان په ښه ډول روزل شوي دي، تر هغې وروسته ورته د چارو واګې سپارل کیږي.

مننه



# د مرکزي بانک برېښنايي پولي واحد کولای شي د منځني ختيځ مالي شموليت او د ادائينو اغېزناکتيا ډېره کړي

(دا مقاله د پيسو نړيوال صندوق له ويبپاڼې څخه ژباړل شوې ده.)

د منځني ختيځ او مرکزي آسيا نږدې دوه پر دريمه برخه هېوادونه د مالي شموليت د زياتېدو او له هېواد څخه بهر ته د ادواينو ترسره کولو د اغېزناکتيا د ښه والي په موخه د مرکزي بانک د برېښنايي پولي واحد د صادرولو امکان څېړي.

سره له دې چې د مرکزي بانک د برېښنايي پولي واحد پلي کول هراړخيزو ارزونو او هڅو ته اړتيا لري، د دې سيمې په اوږدو کې پراته هېوادونه د متنوع اقتصادونو يوه ډله تشکيلوي چې له مراکش او مصر څخه تر پاکستان او قزاقستان پورې هېوادونه رانغاړي، او هر يو بايد د خپلو شرايطو يوه ځانګړې ټولګه په پام کې ونيسي.

د ۱۹ هېوادونو له ډلې څخه، چې اوسمهال د مرکزي بانک د برېښنايي پولي واحد د صادرولو په لټه کې دي، ډېری يې د څېړنې په پړاو کې دي. بحرين، ګرجستان، سعودي عربستان، او متحده عربي امارات له ابتدايي پړاو څخه يو ډېر پرمختللي پړاو ته رسيدلي دي. قزاقستان د قزاقي پولي واحد "تنګې" برېښنايي بڼې د صادرولو په موخه له دوو آزمايښتي پروګرامونو وروسته د نورو په پرتله يو لا زيات پرمختللي پړاو ته رسيدلی

دی.

د مرکزي بانك برېښنايي پولي واحدونه په بالقوه ډول کولای شي له هیواد څخه بهر ته د ادراینیزو خدمتونو د اغېزناکتیا په ښه کولو کې مرسته وکړي. داسي ښکاري چې دا چاره د تیلو صادروونکو او د خلیج د همکارۍ شورا هیوادونو لکه بحرین، کویت، عمان، قطر، سعودي عربستان او متحده عربي اماراتو لپاره یو مهم لومړیتوب وي. دا ځکه چې له هیواد څخه بهر ته ادایني په سیمه کې د بدلیدونکو معلوماتو، عملیاتي قواعدو او د قوانینو او مقرراتو رعایتولو پیچلو پلټنو په خبر خنډونه لري. د مرکزي بانك برېښنايي پولي واحد چې دې ډول نا اغېزناکتیاوو ته رسیدنه کوي، کولای شي د لیږد په لګښتونو کې د پام وړ کموالی رامنځته کړي.

ځینو هیوادونو له وړاندې دې موضوعاتو ته د رسیدنې او د هیوادونو ترمنځ د برېښنايي پولي واحد له لارې د ادراینو د دودولو په موخه له هیواد څخه بهر ته د ادراینو لپاره ټکنالوژیکي پلیټ فارمونه معرفي کړي دي. یوه بیلګه یې له هیواد څخه بهر ته د ادراینو سیستم بونا (Buna) دی چې په ۲۰۲۰ کال کې د عربو د پیسو صندوق (AMF) لخوا جوړ شوی.

د مرکزي بانك برېښنايي پولي واحد کولای شي د ادراینو په بازار کې د رقابت له زیاتیدو او همدا ډول په مستقیم ډول او یا له کم منځګړیتوب سره د معاملو د تسویه کولو له لارې مالي شمولیت ته وده ورکړي چې له

## برېښنايي راتلونکې

په منځني ختیځ او منځنۍ آسیا کې مرکزي بانکونه په زیاتیدونکي ډول د برېښنايي پولي واحدونو رول څېړي.

هغه هیوادونه چې د مرکزي بانك له پولي واحدسره لیوالتیا لري

هو

د دي هیوادونو په هکله معلومات په لاس کې نشته

نه




سرچینه: د پیسو نړیوال صندوق د ثانوي معلوماتو خیرنه

امله یې د مالي خدمتونو لګښت کم او یادو آسانتیاوو ته لاسرسی زیاتیږي. د سوداګریزو بانکونو برعکس، مرکزي بانکونه هم کولای شي د لګښتونو په ټیټ ساتلو کې مرسته وکړي ځکه چې دوی د ګټې په اړه اندېښنه نلري. په ورته ډول، د مرکزي بانك د برېښنايي پیسو له لارې د ادراینو په بازار کې د سیالۍ زیاتوالی کولای شي چې ټکنالوژیکي پلیټ فارمونو بهبود او د ادراینیزو خدمتونو اغېزناکتیا لوړولو ته هڅونه زیاته کړي او له ډېرو خلکو سره د مالي خدمتونو په وړاندې کولو کې مرسته وکړي. په ځانګړي توګه د قفقاز او منځنۍ آسیا هیوادونه، د منځني ختیځ او شمالي افریقا د تیلو واردوونکي او لږ عاید لرونکي هیوادونه د مرکزي بانك د برېښنايي پولي واحد له احتمالي ګټې سره لیوالتیا لري. خو د برېښنايي حسابونو او ادراینو د زیاتي کارونې پر وړاندې د ځینو خنډونو لکه د برېښنايي او مالي پوهې کموالی، د تشخیص نشتوالی، د مالي مؤسسو د بې باورۍ او لږې شتمنۍ په څېر د ستونزو له حل کولو پرته د مرکزي بانك د برېښنايي پولي واحد کارول ممکن یواځې لږې ګټې ولري.

**د خطرونو کابو کول**

دا چې امانتونه په سیمه کې د بانکونو د مالي تمویل لویه برخه یعنې شاوخوا ۸۳ سلنه جوړوي، نو کیدای شي د مرکزي بانك برېښنايي پولي واحد له بانکي امانتونو سره سیالي وکړي چې دا چاره کولای شي په بانکي ګټه او پور ورکولو باندې اغېزه وکړي او د مالي ثبات لپاره ناخرګندي پایلي ولري. خو په سیمه کې پور ورکوونکي په تولیزه توګه په کافي اندازه پانګه، د ګټې او نغدینګي لوړه کچه لري چې په دې مواردو کې نسبتاً لوړ تمرکز بنایي په امانتونو باندې

فشار راکم کړي.
د مرکزي بانک برېښنايي پولي واحد کولای شي د پولي پالیسی د بدلونونو له لارې د بانکونو ترمنځ د سیالی په زیاتولو سره د امانتونو نرخونه او همدارنګه د بانکونو د پور ورکولو برخه پیاوړې کړي. په هر حال، څرنګه چې زموږ مقاله په ګوته کوي، د مرکزي بانک د برېښنايي پولي واحد اغېز کیدای شي د هر هېواد په کچه مختلف وي او اټکل یې ستونزمن دی ځکه چې د مرکزي بانک د برېښنايي پولي واحد کارونه لا تر اوسه محدودې دي.
پالیسي جوړوونکي کولای شي د مالي ثبات پر وړاندې احتمالي خنډونه را کم کړي. حال دا چې د مرکزي بانک د برېښنايي پولي واحد پلي کولو لپاره د منلو وړ کوم روښانه شرایط شتون نه لري، نو یو سالم بانکي سیستم، یو سالم حقوقي سیستم او پیاوړی څارنیز او تنظیموونکی ظرفیت د خطرونو د کمولو لپاره خورا مهم دي. له بانکي امانتونو سره د سیالی محدودولو په موخه د طرحو ځانګړتیاوې لکه د مرکزي بانک د برېښنايي پولي واحد بیلانسونو او معاملو پر وړاندې د محتاطو ټاکل شوو محدودیتونو کارول هم مرسته کولای شي.
د طرحې ځانګړتیاوې یوه مهمه ملاحظه ده. زموږ سروی ښیي چې د مرکزي بانک د برېښنايي پولي واحد پلي کولو لپاره د مناسبو ځانګړتیاوو غوره کول د سیمه ایزو پالیسیو جوړوونکو لپاره یوه بنسټیزه ننګونه ده. د مالي شمولیت او د اداینو سیستم د اغېزناکتیا د زیاتولو په پار د جوړو شوو پالیسیو موخو ته رسیدنه د اړوندو طرحو په ټاکلو پورې اړه لري. د بیلګې په توګه، د مرکزي بانک د برېښنايي پولي واحد آفلاین بڼه کولای شي په لږ عاید لرونکو، کمزورو او جګړه ځپلو هېوادونو کې چې هلته د موبایل خدمتونه په ښه توګه کار نه کوي، مالي شمولیت ته وده ورکړي. په ورته ډول، له هېواد څخه بهر لېږدونو لپاره د مرکزي بانک د برېښنايي پولي واحد کارول، کولای شي د پیسو د لېږد لګښت په راکمولو او د لېږد د پروسې په چټکولو کې مرسته وکړي.
